SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

پنځم کال ۸۳ ګڼه پرله پسې (۳۷۰) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (۱۵)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لړم د میاشتې (۲۱) د ۲۰۰۰ میلادي کال د نوامبر (۱۱)

د پوهنې محترم وزیر د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان استازي ته څرګنده کړه :

مونږ د ګاونډیو هیوادونو او د نړۍ له هیوادونو سره د مسئلو په حل کولو کې د تفاهم په اصل عقیده لرو

د پوهنې وزیر محترم ملا امیر خان متقي ورمه ورځ د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتو د سازمان د سرمنشي له ځانګړي استازي ښاغلي فرانسس ویندرل سره د پوهنې وزارت په مقر کې وکتل.

دغې کتنې په بهیر کې په داسې حال کې چې د چارو د اداري لوی رئیس محترم مولوي سید محمد حقاني هم حاضر و ښاغلي ویندرل د ملګرو ملتو د سازمان امنیت شورا ته د خپل وړاندې شوي ریپوټ او د شپږ جمع دوه هیوادونو له استازو سره د خپلو لیدنو کتنو په اړوند محترم متقي ته معلومات ورکړل.

ښاغلي ویندرل وویل د افغانستان د اسلامي امارت په اړوند د تیرو وختونو په پرتله د ملګرو ملتو سازمان د امنیت شورا د ځینو غړو هیوادونو او د شپږ جمع دوه هیوادونو په دریځونو کې ترمینت راغلی دی.

په مقابل کې محترم ملا امیر خان متقي د اسلامي امارت له مخالفینو سره د خبرو لپاره د افغانستان د اسلامي امارت تیاري څرګند کړ او وې ویل: مونږ د ګاونډیو هیوادونو او د نړۍ ٤ مخ

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې ! همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

از طرف بورد انسجام اداره مرکزي :

ایجاد ۲۳ پروژه تولیدي

مـورد تائید قـرار گرفت

این پروژه ها شامل پروژه خدمات کمپیوتري ، کاغذ سازي ، مصنوعات پلاستیکي و تهیه مواد ساختماني میباشد

سرمایه ابتدائي این پروژه ها پنجاه و نه ملیارد و ششصد و نود و نه ملیون افغاني و سرمایه انتهایي آن مبلغ یکصدو پنج ملیارد و سه صدو ده ملیون افغاني تعین گردیده است

درین پروژه ها براي یکهزار و پنج تن هموطنان ما زمینه کار و فعالیت فراهم خواهد شد

جلسه بورد انسجام اداره مرکزي تشویق و انکشاف سرمایه گذاري خصوصي ایجاد ۲۳ پروژه تولیدي و خدماتي را تایید کرد .

جلسه متذکره که تحت ریاست محترم مولوي شجاع الدین خدام رئیس عمومي اداره مرکزي خصوصي دایر گردید بعد از غور و بررسي و بحث روي موضوعات شامل اجندا به تعداد بیست و سه پروژه تولیدي و خدماتي شامل شیریني و چاکلیت سازي ، پروسس روده ، خدمات کمپیوتري ، آسیاب آرد ، کاغذ سازي ، نخ ریسي قالین، تهیه و تولید مواد ساختماني، بسکیت ، آش مکروني ، تولید نت و بولت ، مصنوعات پلاستیکي ، صابون سازي و سنگ بري به سرمایه ابتدایي مبلغ پنجاه و نه ملیارد و ششصد و نود و نه ملیون افغاني و سرمایه انتهایي مبلغ یکصدو پنج ملیارد و سه صدو ده ملیون افغاني مورد تایید قرار گرفت در صورت فعالیت این پروژه ها براي یک ص ٤

په پکتیا کې :

د زرمت او شاهي کوټ سړک ترمیم شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د سرکې رود او د شاهي کوټ د سیمو ترمنځ مواصلاتي سړک له شلو کلونو وروسته بیا د استفادې وړ وګرځید.

د زرمت ولسوالۍ سرکې رود او شاهي کوټ د سیمو ترمنځ مواصلاتي سړک چې د خلق او پرچم د کمونستي حکومت په دوران کې د ماینونو د ایښودلو له امله تړل ص ٤

سازمان صحي جهان :

با شفاخانه ولایت بامیـان مساعدت نمود

بامیان - باختر : یکمقدار ادویه و سامان آلات طبي به شفاخانه ولایت بامیان مساعدت گردیده است .

سازمان صحي جهان اخیراً پنجاه قلم ادویه و یک تعداد سامان ص ٤

با اهالي ولایت بادغیس :

مقدار ۱۰٤ تن گندم مساعدت صورت گرفت

مقدار یکصدو چهار تن گندم با یک تعداد از اهالي ولایت بادغیس که به اثر خشکسالي متضرر شده اند مساعدت صورت میگیرد.

به اثر مساعي ریاست زون شمال غرب با مصیبت دیده گان ناشي از خشکسالي ص ٤

در ولسوالي سپین بولدک کندهار :

۲۰ کارخانه تولید مواد مخدر تخریب گردید

کندهار - باختر : در مربوطات ولسوالي سپین بولدک ولایت کندهار بیست کارخانه تولید مواد مخدر تخریب و دو هزار کیلو گرام چرس از سوي ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت کندهار حریق گردید.

به سلسله تطبیق فرمان عالیقدر امیر المومنین مبني بر منع کشت کوکنار عدم تولید قاچاق و استفاده مواد مخدر مسوولین ریاست امربالمعروف و نهي عن المنکر ص ٤

د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کې :

ادبي غونډه وشوه

د ځوان شاعر محترم عبدالعزیز غیرت د اثر د کره کتنې وڅیړې تر عنوان لاندې پرون د ننګرهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور د ریاست له خوا یوه ادبي ٤ مخ

په پاکستان کې د ا.ا.ا سفیر :

په اسلام اباد کې د انګلستان له سفیر سره وکتل

د پاکستان په اسلامي جمهوریت کې د افغانستان د اسلامي امارت سفیر محترم ملا عبدالسلام ضعیف پرون په اسلام آباد کې د انګلستان له سفیر ښاغلي هلاري ٤ مخ

روسي چارواکو :

د ډوب شوي اوبتل په اړه تحقیقات پیل کړي

د روسیې دولت نیت لري چې د ناټو د ترون له سمندري پوځ څخه تحقیق وکړي چې آیا د روسیې اټومي اوبتل د ناټو له یوه اوبتل سره ٤ مخ

د امریکا د فلوریډا په ایالت کې :

د رایو بیا شمیرنه دوام لري

د امریکا د متحده ایالاتو د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې د تقلب له احتمال وروسته د فلوریډا په ایالت کې د رایو بیا شمیر پرون دوام درلود .

د ایرنا خبري آژانس خبر ورکړ د ځینو رایو بیا شمیرنه څرګندوي چې د جمهوریت ٤ مخ

په پاکستان کې :

زرګونو تنو د صهیونستي یرغلګرو په خلاف مظاهرې وکړې

د پاکستان د اسلامي جمهوریت په زرګونو تنو مسلمانو خلکو پرون د جمعې د لمانځه له ادا کولو وروسته د صهیونستي یرغلګرو د ظلمونو پر خلاف پراخې مظاهرې وکړې.

د ایرنا خبري آژانس پرون ٤ مخ

په کندهار کې د حافظانو پګړۍ وتړل شوې

د کندهار ولایت د دارالایتام په اسلامي مدرسه کې پرون د قرآن عظیم الشان د شپږو تنو قاریانو او د لسو تنو حافظانو د فضیلت پګړۍ وتړل شوې.

په هغې غونډه کې چې له همدې امله د کندهار ښار په زړه ٤ مخ

ایران والمغرب به یک سلسله توافقات دست خواهند یافت

دول ایران والمغرب یک سلسله موافقتنامه های همکاری اقتصادی ، علمي و فرهنگي را به امضا میرسانند .

آژانس خبر ی ایرنا دیروز گزارش داد وزیر تجارت ایران در پایان سومین اجلاس کمیسیون مشترک ایران و المغرب در تهران گفت ص ٤

درگیري هاي خونین بین فلسطینیان و اشغالگران صهیونستي ادامه دارد

علي الرغم تلاشهـا براي توقف قیام ها علیه اشغالگران صهیونستي در گیریها میان فلسطیني ها و تجاوز گران صهیونیست در مناطق اشغالي فلسطین ادامه دارد.

آژانس خبري ایرنا دیروز گزارش داد تجاوزگران صهیونست به حملات وحشیانه خود بر باشنده گان مناطق اشغالي فلسطین افزوده که از اثر آن تنهـا در ۲٤ ساعت گذشته ۷ نفر فلسطیني به شهادت رسیده است . ص ٤

سفیر ایران در ملل متحد :

تحریم های اقتصادی امریکا علیه کیوبا بر خلاف اصول بین المللي میباشد

سفیر و نماینده دایمي ایران در سازمان ملل متحد تحریمات امریکا را علیه کیوبا ناقض اصول و قوانین بین المللي خواند.

به گزارش آژانس خبر ایرنا سفیر و نماینده دایمي ایران در سازمان ملل متحد دیشب در جلسه مجمع عمومي سازمان ملل متحد توسعه همکاري بین المللي ص ٤

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د اسلامي کنفرانس راټولونکې سرمشریزه او د اسلامي امت هیلې

تاکل شوې ده سبا یکشنبه د شعبان په ۱٦ مه نیټه په قطر کې د ٥٦ اسلامي هیوادو مشران سره جرګه او د اسلامي نړۍ په بیلا بیلو کشالو خصوصاً فلسطین په هکله خبرې او څیړنه وکړي .

ښکاره ده چې اسلامي کنفرانس په نړیواله توګه د مسلمانانو ډیره لویه سیاسي ټولنه او ګرد اسلامي هیوادونه پکې غړیتوب لري په کار خو دا ده چې دغه ټولنه ډیره ځواکمنه او ۲ مخ

بسوي خوشبختي هاي اهالي کـابل

کوچه مرغها به عنوان اولین جادهٔ توریستي در افغانستان اساس گـذاري گردیده است

این جـاده را میتوان کـوچه خوشبختي ها نام گذاشت

کوچه مرغها یا بازار سبز از ویژ کوچه هاي آشنا و زود پیدا شهر کابل تلقي میگردد . آرشیف کابل نشان میدهد که این کوچه با داشتن ۵۲ سال قدامت در قلب شهر نو به عنوان اولین جاده توریستي افغانستان در هر رژیم و هر حکومت به حساب رفته است؛ چنانچه همین حالا دانسته هاي این کوچه ۸۰ فیصد ضروریات روزانه اتباع خارجي مقیم کابل را آسان ساخته و عند الموقع در اختیار آنان قرار میدهد و از اینکه در نخستین سالهاي ایجاد این جاده در تمامي دکاکین آن تنها مرغ بفروش میرسید از همین وجه این کوچه مسمی به کوچه مرغها گردیده است .

کوچه مرغها در یک خط کوتاه ٤۰۰ متري بین جاده چهاراهي صدارت و جاده چهاراهي طوره بازخان جلو افتاده که از هر حیث به زیبایي آن دو چند افزوده است. این کوچه شامل ۲٤۰ دکان بوده که اکثر این دکاکین را خوراکه فروشي ها و گلفروشي هاي زیبا تشکیل میدهد . وقتي انسان پا به این جاده میگذارد به یکبارگي فضاي عطر آگین و خوش گلي آنرا به مشاهـ ص ٤

په بیت المقدس کې :

یو صهیونیستي پولیس ووژل شو

د نیول شوي بیت المقدس په زاړه ښار کې د یو بم د چاودنې له امله د صهیونستي یرغلګر رژیم یو تن پولیس ټپي شو .

د ډي پي اې خبري آژانس خبر ورکړ دغه چاودنه د یوه لاسي بم په واسطه وشوه چې هدف ٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتې برخه

اغیزمنه وای، ځکه ٥٦ هیوادونه خو په نړی کی یو داسی لوی او قوی اتحاد جوړولای شی چی نه به یی د بشری قوت کمی وی او نه به له نظامی او اقتصادی پلوه چاته څه اړتیا ولری او دا په داسی حال کی چی د تیلو او گازو ټولی زیرمی یی هم په لاس کی وی په هر صورت را روانه ټولنه ځکه ډیر اهمیت لری چی دا ځل د ټولو اسلامی هیوادو ولس مشران سره ټولیږی، څوک چی د اسلامی نړی ټولی سیاسی ذمه واری یی په غاړه پرتی دی دا سر مشریزه باید د اسلامی امت د ټولو مهمو ستونزو د هواری لاری ولټوی . دوی باید په یوه خوله د صهیونستی برغل په وړاندی کلک دریځ غوره او د امریکی اسرائیلو بارانه وغندی د چیچنیا په هکله له روسانو غوښتنه وکړی چی نور هلته پوځی برغل پای ته ورسوی او چیچن ولس ته خپلواکی ورکړی، د کشمیر په هکله په هندوستان غږ وکړی چی د مسلمانانو له عام وژنی لاس واخلی او له هغه ځایه پوځونه په شا کړی او د افغانستان په باره کی واقعیتونه درک او د افغانستان څوکی د افغان ولس رښتینی استازی (اسلامی امارت) ته ورکړی همدارنگه دوی مسولیت لری چی په اقتصادی ډگر کی هم له غریبو او جگړه ځپلو اسلامی هیوادو سره مرستی او بسپنه وکړی په دی برخه کی باید یادونه وکړو چی افغانستان یو له هغو هیوادو گڼل کیږی چی شل کلنو جگړو او سختی وچکالی ځپلی او له بی شمیره کړاوو سره یی مخامخ کړی نو ځکه افغانان په نورو اسلامی هیوادو له دینی او اخلاقی پلوه حق لری چی باید په خلاص مټ مرستی ورسره وکړی .

راتلونکی سر مشریزه باید د مسلمانانو د یووالی او پیوستون لپاره هم چټکی هلی ځلی وکړی او د هغو بدگومانیو او خوابدیو علاج وکړی چی نړی وال کفر یی د مسلمانانو ترمنځ را پیدا کوی، او بیا ځان ځان ته د هر یوه په ستونی پښه وړودی نو که په رښتیا هم دغه مشران په اسلامی اخوت یقین پیدا کړی ولی به : خپل وړور اسلامی هیواد له ویری په امریکایی لښکرو ځان ساتی او یا به هر کال د ملیاردونو ډالرو وسلی او پوځی مهمات اخلی د اسلامی هیوادو مشران باید دی ټکی ته هم ځیروی چی نن سبا ډیری هوښیاری او ژوری کتنی ته اړتیا ده او دا د دوی ذمه واری ده چی د دښمن غرضی لاسونه غوڅ او په خپلو کی د وروری مزی ټینگ کړی په دی ډول به نه یوی خوا ټول اسلامی هیوادونه له خپل منځی جگړو وژغوړل شی او د سوچه دوستی او وروړگلوی په فضا کی به ژوند وکړی او له بلی خوا به د اسلامی وحدت په زور د کفارو له امارت او بندگی نجات پیدا کړی او د امت دغه ویرجن حالت به ختم شی چی د هر یوه په سر د پردیو پوځی بیړی گانی ولاړی او یایی په داخل کی نظامی هډی ورته جوړی کړی نو گورو به چی د قطر اسلامی سرمشریزه تر کومه ځایه خپلو مسولیتونو ته پاملرنه او د خپلو ولسونو د هیلو ترجمانی کوی خو په هر حال د افغانستان اسلامی امارت یو ځل بیا غوښتنه کوی چی باید اسلامی کنفرانس په ټولو اسلامی کشالو کی په زوورتیا سره خپل مثبت رول ولوبوی او دخپل امت د ستونزو په هواری کی له چاونه ویریږی همدارنگه په جدی توگه غوښتنه کوو چی په کنفرانس کی د افغانستان څوکی اسلامی امارت ته ورکړی او نور د افغان مجاهد ولس په حقوقو سترگی پټی نه کړی

دافغان سیاست پوهانو په نامه یو پرانستی لیک

فاروق

درنو اوښاغلو مشرانو موږ دا منو چی په تاسی کی به زیاتره دخپل خوږ هیواد اوگرانو هیوادوالو دوداني او هوسایني دپاره بیلابیلی لاری او وړاندیزونه لری اود خپلو نظر بود پاره بیل بیل دلایل - خو- داسی ښکاری چی ځینی بیا دولس او هیواد دگټو پرځای دخپل ځان غم اخیستی او داسی لاری په گوته کوی چی د دوی خپله ورتیا او وزن پکی مطرح وی نو که ملت هر څومره وکړیده څه پروا . ددغی خبری سپیناوی نو په خپله تاسی پوری اړه لری ،تاسی له خپل ځان سره په گریوان کی سرښکته او داحساب وکړی چی دخپل ځان دڅرگندولو او مطرح کولو دپاره ډیر تدبیرونه جوړوی او که دملت دسوکالی ؟ که صرف دځان دپاره وی ،نورو پوښتنو ته څه حاجت نشته او دا یو ښکاره خیانت او له خپل ولس سره جفا ده او که فکرونه او ځیرنی مود خلکو دپاره وی نو اوس لومړی پوښتنه داده چی په دی هکله مو د خپل ملت دغوښتنو او هیلو ډیر خیال ساتلی او که دبهرنیو مشورو ؟ او له همدی ځایه دبهرنی لاس وهنی پوښتنه هم راپیداکیږی هغه چی دسیاسی دود سره سم تل یو سیاسی مشر بل مشرو رباندی متهموی .مگر ملت ښه پوهیږی چی بهرنی مداخله له کومی خواده . زموږ یوشمیر سیاست پوهان هم ډیر ښه وینی چی هیواد ته دچا ،چا لاسونه راغځیدلی او لگیادی جنجالونه زیاتوی او جگړی اوږدوی .اوس له تاسو ښاغلو دا پوښتنه کوو چی ولی ددی بهرنی نوم نه اخلی .په دی برخه کی خو یقیناً ولس ستاسی کلک ملاتړ کوی .بیا یی موږ په زغرده وایو چی دروسیی، تاجکستان او ایران دراډیو گانو له خولی دنو موړو هیوادو چارواکی په ډاگه داسلامی امارت دمخالفینو ننگه کوی .آیا تاسی یی نه اوری چی دغه راډیو گانی څومره دهغوی دپاره پروپاگند اوتبلیغات کوی ؟ آیا تاسی نه اوری چی په ښکاره مخالفینو ته دنظامی مرستو ورکولو خبری کوی او هر ډول سیاسی ،نظامی او اقتصادی ملاتړیی کوی ؟ آیا رښتیا هم تاسی ته دهغوالوتکو شمیر نه دی معلوم چی یو دوه کاله مخکی یی دافغانانو دوژلو دپاره خپلو نوکرانو ته وسلی او مردکی راوړل ؟ تاسی اوخدای موچی دمیمنی ،شبرغان ،مزار ،بامیان او تالقانو هوایی ډگرونه یی نه ډیوټی کړی ؟ تاشی له نړی والو خبری سرچینو وانه وریدل چی دقرغیزستان پولیسو څوورځی هغه اورگاډی ایسار کړ چی په سربی اوره اولاندی له وسلو او مهماتو ډک ؟ او آیاهمدا اوس هم پنجشیر او بدخشان ته دنوموړو هیوادو په نظامی مرستو بار چورلکی نه راځی ؟ دادچادی ؟ تاسی یی ولی نوم نه اخلی ؟ بلکه پوښتنه داده چی څوورځی مخکی استاد رباني په خپله خوله و ویل چی موږ د یو قانونی حکومت په توگه داحق لرو چی دهرچانه نظامی مرستی ترلاسه کړو او اوس موهم له روسانو څو دانی چورلکی اخیستی دی ښه نو تاسي ښاغلی دوایی موجوده روسیه دپخوانی شوروی اتحاد په ځای نه ده ناسته او یا افغانان له روسانو سره یوه لویه بدی نه لری ؟ آیا د دوه میلیونو انسانانو خون مو نه دی وړله غاړی ؟ آیا تراوسه په ملی سطح کومه روغه له روسانو سره شوی ؟

نوراځی تاسی او انصاف ! مبرک کارمل همدغه شان خبری نه کولی چی موږ دشوروی اتحاد محدود قطعات راغوښتی او دا مو خپل حق دی چی دپاکستان دمداخلی مخه ونیسو ! !

پاتی شوه دولس داکثریت ملاتړ خبره چی بیا هم هرڅوک یی دعوی لری خو دا هم په خپل عقل ډیره ښه څرگندیږی . موږ له تاسی داپوښتنه کوو چی که دافغانستان داسلامی امارت سره دخپل مجاهد ولس قاطع ملاتړ نه وی نو بیا په څه ډول دهیواد په ۹۵٪ برخه واکمن دی . آیا ملگری ملتونه یی په رسمیت پیژنی او یا څه مرسته ور سره کوی ؟ آیا په نړی کی کوم داسی حکومت شته چی په ډاگه یی د امارت ننگه کړی وی (یوازی د ترکمنستان ولس مشر په کومه غونډه کی ویلی وو چی له طالبانو سره مو گاونډی توب دی او ضرری خلک نه دی) آیا امریکایی ښه کلک مخالفت نه کوی ؟ روسیه یی کلکه دښمنه نه ده ؟ ایران، ازبکستان، تاجکستان، هند ،چین ،المان، فرانسی ،انگلیس او اسرائیلو کومه سیاسی، نظامی او اقتصادی مرسته ورسره کړی او لا بلکی دغو ټولو یی پښو ته اغزی نه دی اچولی ؟ آیا پاکستان هم په کومه غونډه او ټولنه کی په ډاگه د امارت ننگه کړی لکه څنگه چی نور یی د مخالفینو کوی او که هغه څو نفره پاکستانی طالبان د ومره زور ور دی چی د هیواد په ۲۸ ولایتو کی یی د امارت پښی ټینگی کړی ؟ آیا دا تاسی منی او آیا پاکستان دومره پیسی او وسلی لری چی له هره پلوه ټول افغانستان وچلوی ؟ ښه نو بیا اسلامی امارت په څه شی تکیه دی ؟ تاسی که کوم شی وینی ولی یی خلکو ته نه ورښیی .

دریمه پوښتنه د نظام په هکله ده او هغه دا چی که دلته په نافذ قانون کی کوم حکم له شریعه ، نه خلاف وی نو بیا ولی چپ یاست . په ګډوډوایی چی دا کار له اسلامه خلاف دی او د حکومتی جوړښت خیره څو بیخی د افغانانو له دود سره سمه ده ، ځکه په افغانستان کی مخکی هم داسی انتخابات نه دی شوی چی خلکو په خپلو رأیو سره کوم مشر ټاکلی وی له احمد شاه بابا را په دی خوا موږ په تاریخ کی داسی څه ښیلگه نه لرو نو په داسی حال کی چی د روسانو د برغل په وجه زموږ پوځ له منځه تللی وی ، ملکی اداری ړنگی او سرکاری خزانه ټوله لوټ شوی وی، امنیت نه وی ، د هر کلی خانته پاچاهی او په هر ولایت کی د بیلا بیلو هیوادو اړوندو ملیتو ته له نظامی مهماتو بار الوتکی راروانی وی او بیا په همدغسی حالاتو کی یو ښه لوی شمیر علما او سپین گیری را ټول او د یو چا په سر د مشرتوب لونگی ورکیږدی نو آیا کوم مخلص هیواد وال به یی مخالفت وکړی .

ښه نو درنو مشرانو په موجوده حالاتو کی په افغان ولس ستاسو د وړاندیزونو څنگه ملاتړ وکړی په تاسی کی خو یو څو په دی خبره ټینگ دی چی دا مو خپل قانونی حکومت دی او که نه یی منی نو ورشی له روسانو او ملگرو ملتو پوښتنه وکړی ، نو باید اسلامی امارت رنگ او موږ نه ځای خالی کړی ؟ په دی کی به نو څه ووایو بل وایی : هیواد والو او مخلصینو را ټول شی طالب او مخالف یو هم مه پریږدی ، موږ به په خپله نظم راولو او جگړه به ختموو په دی هکله باید ووایو چی دا هم ډیر اوږد مزل او ولس ډیر ستړی ستومانه دی نو ځکه غیر عملی طرح ده . یو څو نور جنابان وای : لویه جرگه به جوړه کړو او ظاهر خان به مشر وټاکو دا طرح یو څو ډیره اختلافی او بل ډیره مبهمه ده له بلی خوا افغانستان هم هغه پخوانی هیواد نه دی ، او سنی افغانستان ډیر شوخ او له جنجالو ډک دی نو گومان نه کیږی داسی څوک یی اداره کړی چی ډیره موده بهر پاتی شوی او له حوادثو سره نا اشنا وی .

اوس نو ایکی یوه لار پاتی شوه چی هغه د اسلامی امارت د لا ټینگولو او سمولو لاره ده موږ دا منو چی دلته به ډیری نیمگړتیاوی او کمزوری وی خو که ستاسو په شان پوهان او مشران ټول په یوه خوله د بهرنیو لاس وهنو او نورو ستونزو په مقابل کی د خپل هیواد او خلکو په گټه یو دریځ غوره کړی او له امارت سره ښی مشبتی اړیکی وساتی ان شا - الله ډیر ژر به دا نیمگړتیاوی پوره او مشکلات به حل شی یوازی دومره قربانی په کار ده چی له ځانی گټو تیر شی او دا ومنی چی خیر یو څو ورځی دی ستاسو کوم بل مسلمان ورور د وزارت او ریاست په څوکی ناست وی په هر حال به ستاسی هغو مشورو ته د قدر په سترگه وکتل شی چی زموږ د ولس په گټه وی .

په آخر کی دومره وایو چی اسلامی امارت د افغانانو د کور یو څو دیوالونه او څو خونی جوړی کړی دی ،تاسو هڅه وکړی چی دغه موجوده ودانی بشپړه او نوره ښکلی کړی داسی نه چی دا له بنسټه ورانوی. او بیا خدای خبر بلی ته مو څوک پریږدی او که ؟ نو راځی د روسانو، لویدیځ والو ، نورو مغرضینو او له خپلو نفسی غوښتنو تیر شی ، په خپل کړېدلی او ځوریدلی ولس رحم وکړی او په هیواد کی د سولی او ثبات په خاطر قربانی ورکړی لوی خدای دی موږ او تاسو ټولو ته د خلکو د خدمت او سپیڅلی شریعت د پلی کولو توفیق راکړی .

پناهندگي اقتصادي

مهربان

امروز یاد دهاني از حرکت کشتي پناهندگي افغانها جانب امریکا واروپا براي ما و شما حرف تازه، نیست، اما نقطه شایان عطف درینجاست که از طي ده سال بدینسو این کشتي سرعت قابل ملاحظه یافته است. گرچه درین دراز مدت افغانها عموماً به شکل قاچاق و یا غیر قانوني عازم کشور هاي اروپایي شده اند و از این جهت مشکل است که بگوئیم هم اکنون چه تعداد افغانها در امریکا و اروپا مقیم مي باشند ، لیکن نظر به امار منتشره رسانه هاي خبري جهان گفته میتوانیم که همین حالا زیاده از یك ملیون پناهنده افغان أعم از زن و مرد در شهر هاي بارز اروپا چون لندن، هامبورگ، فرانفکورت، ایسن، سویدن، ناروي، چك و سلواك، نیوزلیند، هالند (دوردریخت، هالیمز، آمستردام) ایالات کالفورونیا ، واشنگتن، تکزاس، ویرجنیا و شیکاکوي امریکا و شهر هاي سدني، ملبورن و پرت آسترالیا و مسکو بسر میبرند که علت این همه جهانگردي آنها را در حقیقت امر پناهندگي اقتصادي تشکیل میدهد نه پناهندگي سیاسي و نه این دلایل میان تهي و بي بنیاد گویا اینکه امروز در افغانستان امنیت وجود ندارد ، حقوق بشر از جانب زعامت فعلي مراعات نمیگردد ، تعلیم زنان مجوز نیست ، زمینه کار یابي وجود ندارد و ...

امروز از آنجائیکه ملاحظه میشود این پناهندگان تحت پوشش انگیزه هاي آتي پناهنده میشوند :

۱- مطالبه پناهندگي سیاسي !!!(اقتصادي) اعضاي بدنام حزب خلق و پرچم این دژخیمان بي فرهنگ از مجامع اروپایي غرض به اصطلاح تأمین و تضمین حیات اقتصادي خود و خانواده هاي شان و پذیرش بدون تعلل آنها از جانب مجامع مزبور.

۲- درخواست اعضاي خانواده و وابستگان آن عده از افغانهائیکه ایشان قبلاً در ممالك اروپایي پناهنده شده و به اهتمام هزینه کمکي خویش قریبان شان را به شکل انفرادي و یا دسته جمعي از افغانستان و پاکستان به طرف خود میکشانند که انکشاف دادن همین پروسه سلسلتاً به حمایت و پشتیباني یکدیگر وسیعاً تعقیب میگردد.

۳- فروش اثاثیه منزل و جایداد هاي منقول و غیر منقول توسط مسؤل فامیل غرض تهیه هزینه انتقال پسر به اروپا به مقصد فراهم شدن شرایط بهتر کاریابي براي پسر یگانه اش در آنجا و فرستادن یك مشت پول از جانب پسر براي پدر به شکل متداوم به عنوان خرچه فامیل در افغانستان و پاکستان که عموماً این طبقه را جوانان تشکیل میدهند.

٤- آنعده از جوانان باالهوس افغان که جز خوش گذراني غایه، دیگر بسر نداشته و به گفته عوام تنها همینقدر شنیده اند که « علي آباد شهر است، مگر از دیوانه خانه هاي آن خبري ندارند » دست به ترویج هاي نا متجانس و کوتاه مدت زده و با این امکان یکي از دختران و یا پسران سالخورده مقیم اروپا را در بند خود و یا خود را در بند آنها قرار داده و با استفاده از همین شانس زمینه رفتن به اروپا را کمایي میکنند.

امروز با وصف اینکه در ۹۵ ٪ خاك کشور نواي صلح و امنیت مسترلي بوده و هیچ بهانه، براي خروج و پناهنده شدن افغانها به خارج وجود ندارد؛ لیکن با اینهمه این ویروس در وجود اکثریت همچون مرض سرطان ریشه دوانیده و حیات باقي است که ربوده شدن، یك فروند طیاره شرکت آریانا به لندن و در خواست پناهندگي اقتصادي ربایندگان افغان از حکومت بریتانیا دال بر آنچه گفته آمدیم مي باشد.

از سوي دیگر همین حالا کمشنري عالي ملل متحد حدود ٦۰-۷۰ فیصد این پناهندگان را تحت پوشش تسهیلات خویش دارد، ولي با وجود این هم مرد و زن افغان مشترکاً مجبور به انجام کار مي باشند به دلیل اینکه خانواده هاي در انتظار شان را در افغانستان و پاکستان به اصطلاح «سپورت» نمایند. حال بیائید بدانیم که این پناهندگان در اروپا و امریکا به چه کار هاي اشتغال دارند.

ادامه دارد

د شعر او ادب نړۍ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

لاروی ته

عبدالبصیر عبرت

ای مسافره ای ستومانه یاره
دغه له تورو شپو نه ډکه دنیا
ددې زاړه زندان په تورو شپو کښې
ستا د امید د رمې کوزه خواکښې
لا د فلک په زړه کښې غلی طوفان
لا د وریځو هیبتناکه تنها
خو ته بیا که او په فراخه سینه
د لوړ تکل په تیره توره باندې
په دنګو غرو کښې زلزلې راوله
د هر ملګری په سره سینه کې

ښکلی منزل دی لا مزلونه غواړي
ستا د سرو وینو مشالونه غواړي
څو مظلومان لا زولانه پراته دي
یو، دوه لیوان لا ښه دراته پراته دي
ستا د غیرت د شمعې مړینه غواړي
دا ستا د هیلو جوګه خوړینه غواړي
هدف ته دروم او مزلونه وهه
د هر یاغي طوفان سرونه وهه
د غلیم زړه ته تیکاتونه ورکړه
راپاروونکې سره اورونه ورکړه

بر ما چه گذشت ؟

مژده

اي ستمکارا ز ظلم تو بر انسان چه گذشت ؟
از ستمهاي تو بر کشور ایمان چه گذشت؟
ز آتش بمب تو ویرانه شد شهر و دیار
از شرارش بسر خرمن دهقان چه گذشت ؟
هدف تیر تو شد پیکر هر حق طلبي
بر سر و سینه از آن ناوك و پیکان چه گذشت؟
از غمش بر دل پر غصه ما در چه رسید
از غم و درد به مژگان یتیمان چه گذشت؟
مؤمني تا که به چنگال تو گردید اسیر
تا که جان داد به او در دل زندان چه گذشت ؟
خانه و جامه و نان جمله ز مردم بگرفت
بر سر مردم ره برده به هجران چه گذشت ؟
خاك احرار سپردند به دشمن یکسر
بر رخ پاك وي از چکمهء روسان چه گذشت ؟
پردهء تیره کشیدند فرا راه سحر
دل حسرت زده را در شب ظلمان چه گذشت ؟
ملتي گشته فراموش به گرداب قرون
بر سر او ز ظل و سایهء سلطان چه گذشت ؟
عزم و ایمان تو اي ملت افغان نازم
کز دم تیغ تو بر لشکر عدوان چه گذشت ؟

غوښتنه

وفایار

په مړونو مینو خدایه! ته د ښکلو باران وکړې
په وچو خوارو زړو د نازولو باران وکړې
بدرنګي وچکالي له بدرنګي کړو مخامخ
بو څه له خپلي خوا د لورولو باران وکړې
آرمان مې چې پوره شي ښه سمسور بې وویښمه
په وران خزان وطن زمونږ د ګلو باران وکړې
داواړه آفتونه، مرضونه چې کړي لیرې
په لویشت، لویشت ګام په ګام د پرېمنځلو باران وکړې
بتان چې د باطل مات کړې هم ښکر د ښکرورو
په شان د بت شکن ته د اتلو باران وکړې
د خاورې تور دښمن مولکه سور دښمن توټې شي
احمد غوندي خاونده! د ښاغلو باران وکړې
د خوږ ژوندانه ساه چې د سکون فضا کې واخلو
وطن کې مو د ښل اور د وژلو باران وکړې
خفه زړونه مو ښاد کړې مرور زړونه پخلا کړې
افغان باندې افغان د ښکلولو باران وکړې
د کونډو یتیمانو د شکیدلو ګریوانونو
پیوند بې بیرته غواړم پرې ګنډلو باران وکړې
چې ویښ ضمیر ژوندې احساس لري «وفایار» وایم
راډېر کړې شاعران د ښو غزلو باران وکړې

مظلومې چیغې

حنیفه زاهد شاه جویي

د زړه له پټه غمه به مې ځان وسوځوم
په اور د اسویلو به ټول جهان وسوځوم
چې زما د هیلو توکي له کلونو کې بندي دي
زمانه ستا په دغه تور زندان وسوځوم
آسمانه که مې لاس چیرې لمنې ته در لنډ شو
په چیغو او زارو به دې ګریوان وسوځوم
که هر څومره مې نه اورې ناري در څخه نه ځم
د سترګو په انګار به دې استان وسوځوم
که زما د امیدونو غوټی نه وغوړیدلې
د ژوند به دا بې برګه ګلستان وسوځوم
میدان ته به ور ووځم په عادت د لیونیو
پر سرو وینو را ټول به خونخواران وسوځوم
چې ځان بې دې پیچلې په جامو د خدمتګارو
د هغو سر بخورو به کاروان وسوځوم
چې ورځې د ژوندون مې یکښې تورې دي لیکلې
قسمته ستا به دغه تور دیوان وسوځوم
«زاهده» دا مې هڅه ده چې جګو غرو ته خیژم
په پرک د هر قدم به بې دامان وسوځوم

ترانهء مجاهد

حنیف بلخي

سر راه روس ملحد به همه هنر گرفتم
چو پیاده شد به خاکم به کمال بي حیایي
گر از آن عدوي ظالم سر تیغ و تیر دیدم
اگر او به شهر من شد بزدم به سنگ پوزش
اگر او به کوه من شد به سرش کلوخ بارید
اگر از درخت باغم بشکست شاخهء را
اگر او برنگ نمرود بگشود آتش و دود
دلش از شکنج بیشه بدریدم همچو شیري
سر دشمنان بریدن دل دشمنان دریدن
به صفوف داغ دشمن به دفاع خاك و میهن
بادب کمین سنگ خط عرق سنگ خواندم

به کلنگ وبیل و تیشه و بچوب تر گرفتم
دم توپ و تانك او را به دم تبر گرفتم
بدریده جیب و سینه برخش سپر گرفتم
اگر او به دشت من شد ره او بدر گرفتم
اگر او به کوه من شد رهش از کمر گرفتم
به قصاص این گناهش من از وي سر گرفتم
چو خلیل رب کعبهء شان و فر گرفتم
سر راه او به صحرا چو پلنگ نر گرفتم
چه نیکوست همچو ارث که من از پدر گرفتم
به ره شبیر رفتم صفت شبر گرفتم
تب و تاب شعله خیزي ز کف شرر گرفتم

چون حنیف این ترانه بنمود جاودانه
به صد افتخار او را به حریر و زر گرفتم

یو شي!

شهید ملا بسم الله سحر

ټول سره یو شي د نړۍ مسلمانانو یو شي
ټول شي یو موټې ای رښتینو مومنانو یو شي
لاسونه پښې په یو خو ځون کړي زولنې ماتې کړي
څمکه په سور کړي په هر لور بندیخانې ماتې کړي
د تور نظام په زندانو کې زندانیانو یو شي
د لارې هر خنډ ته هر ګام د ورکې خنډ کړي پاڅي
وې په اغزو که په لمبو دا مزل لنډ کړي پاڅي
حل دې ددې ستونزو یو ون ایماندارانو یو شي
ای د اسلام د باران څاڅکو سیلابونه جوړ شي
یو شي څپې شي قهرېدلي طوفانونه جوړ شي
طوفان د نوح شي په جهان د طاغوتیانو یو شي
مرګونه ومنئ د پاکې آزادۍ په لار کې
پیل کړي یون د یوې سپېڅلې خپلواکۍ په لار کې
اوچت ګامونه کړې په پلو د سحریانو یو شي

داصحابو دژوند پلوشې

۳۶

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

په دغه وخت کی اوښ ته راغلم او د اوښ تسمار می خوشی او ایله کړ او بیا وربانَدی سپور شوم او په هغه پسی نور اوښان هم روان شول.

ما ټوله شپه لار ووهله، کله چی سبا شو نو هر لوری ته می وکتل او داسی څوک می ونه لید چی هغه زما په لټه کی وی نو خپل تګ می چالاکه کړ تر دی چی رڼا ورځ شوه بیا چی می وکتل نو د یوه تپوس او یا د یوه غټ مرغه په اندازه یو شی را نږدی شو نو ویښم چی یو ځوان دی اوپر آس باندی سپور دی، او بیا چی دغه ځوان ښه را نږدی شو نو ومی پیژنده چی هماغه د اوښانو څښتن دی او د خپلو اوښانو په لټه کی دی. په دغه وخت کی ما اوښ وتاړه او له توبری څخه می یو غشی راوویست او په لینده کی می کیښوده او اوښان می تر شا کړل نو ځوان را څخه لری ودرید او راته یې وویل : د اوښ تسمار خوشی کړه .

ما وویل : هیڅکله دا نکوم، ما له ځان څخه وروسته په څیره کی خپلی ښځی وږی پریښی دی،او ما سوګند کړی دی چی زه به هغوی ته تر هغه نه ستنیږم څو چی می هغوی ته څه مال وړی نه وی او یا د مرګ سره مخامخ شوی نه اوسم.

ځوان وویل : ته خامخا وژل کیږی د اوښ تسمار خوشی کړه بی پلاره شی. ما وویل : هیڅکله به یی خوشی نکړم.

ځوان وویل : هلاک شی ته خامخا پر خپل ځان مغرور یی. بیا ځوان وویل : د اوښ د تسمار یو ځای راوښیه؟

په تسمار کی دری غوټی وی. بیایی را څخه پوښتنه وکړه چی کومه غوټه په غشی وولم ؟

ما منځنی غوټی ته اشاره وکړه هغه په غشی سره منځنی غوټه وویشتله اوغشی یي په غوټه کی ورننویست، بیایی په همدی ډول دویمه او دریمه غوټه هم وویشتله.

په دغه وخت کی ما خپل غشی په توبره کی کړ، او هغه ته تسلیم شوی ودریدم بیا هغه رانږدی شو، اوله ما څخه یی توره اولینده واخیستله او راته یی وویل : ما پسی سپور شه . زه وریسی سپور شوم.

بیایی راته وویل : ته څه ګمان کوی چی زه به تا سره څه کوم ؟ ما وویل : خورا بد ګومان .

هغه وویل : دا په څه ؟ ما وویل : په هغه سبب چی ما درسره کړی دی، او تاته می تکلیف رسولی دی او الله ستا لاس په ما بر کړی دی.

هغه وویل : ایا ته ګومان کوی چی زه به تا سره بدی کومه او حال دا چی تا د مهلهل (د هغه پلار) سره په هغه شپه، په څنګ، خوراک او مرکه کی ګډون کړی دی. کله چی ما د مهلهل نوم واورید نو ما وویل : ایا ته زید الخیل یی ؟

هغه وویل هو ما وویل : نیک بندی کوونکی واوسه.

هغه وویل : تاته هیڅ الزام او مسؤلیت نشته .

بیایی خپل ځای ته بوتلم او ویی ویل : په الله سوګند، که دغه اوښان زما وی نو ما به تاته درکړی وای ولی دغه اوښان زما د یوی خور په ملکیت دی نو ته یو څو ورځی موږ سره و اوسه او زه به په نږدی وخت کی په یرغل سره غنیمت تر لاسه کړم.

هماغه وچی له دریو ورځو وروسته یی په بنو نمیر باندی یرغل وکړ او د سلو اوښانو په شا او خوا کی یی غنیمت تر لاسه کړ، او بیا دغه ټول اوښان یی ماته راکړل، او بیا یی له ما سره یو سړی ملګری کړ تر هغه چی حیری ته ورسیدم.

دا و د زید الخیل حالت چی په جاهلیت کی و او څه چی د هغه حالت په اسلام کی دی نو دسیرت کتابونه ور څخه داسی یادونه کوی :

باقی لری

بسوي خوشبختي هاي اهالي...

احساس میکند، گلفروشي هاي بهار، سنبل، نرگس و اتفاق در انظار و اذهان هر کابلي نامیست آشنا و زود پیدا ؛ همچنان کلچه هاي لذیذ کشمیري و کیك هاي سالگره و عروسي چندین طبقه ئي مرکب از دیزاین هاي مرغوب و بي نذیر چون کشتي تیتانیك!!! ، برج ایفل !!!، تاج محل !! منار جام ، فواره پشتونستان، هوتل انترکانتیننتال و ... در کلچه فروشي هاي این کوچه از اشتهار بي الکوي برخوردار است ؛ ولي آنچه درین تازگي ها بر پیکر زیبا و خوشرنگ این جاده رنگ دیگري بخشیده و همه روزه بویژه جمعه روز ها تیر به چشم عابرین میزند، گلپوشي نیز رفتار هاي قشنگ و دیدني هموطنان ماست که یکي به تعقیب دیگر درین گلفروشي ها گلپوش شده و غرض انتقال و شهر گشت آنعده از جوانانیکه تازه سنگ پایه، زندگي مشترك شان را میگذارند در حرکت مي افتند.

بلي خواننده عزیز! در کوچه مرغها مقابل یکتن از تازه داماداتیکه دریشي سیاه به تن داشته و انتظار میبرد تا موتررا که غرض گلپوشي با دوستانش آورده گلسازان آنرا برایش گل بزنند، ایستادم و وي در حالیکه از مسرت خاطر در لباسهایش نمي گنجد و در میزباني اولین روز وصلت زندگي اش قرار دارد خود را عبدالواسع فارغ التحصیل پوهنځي حقوق و علوم سیاسي پوهنتون کابل معرفي میدارد .

– واسع جان آیا شما در گذشته هم دریشي به تن میکردید ؟

– بلي ! فقط چار سال میشود که دریشي نمیکنم.

– آیا امروز با پوشیدن دریشي خود را در اجتماعیکه همه ملبس با یونیفورم یعني پیراهن و تنبان اند بیگانه احساس نمیکنید ؟

– به یقین که ني! اصلاً ما بچه ها در کابل معمولاً از دو نوع لباس استفاده میکردیم: یکي لباس ملي و دیگري لباس رسمي، لباس ملي ما عبارت از پیراهن و تنبان ساده همراه باد ستار و لباس رسمي که ما قبلاً از آن در ادارات رسمي، پوهنتون و مکاتب استفاده مینمودیم عبارت از دریشي با پتلون بود، بچه هاي کابل در مراسم عروسي و یا شیریني خوري خویش عموماً دریشي میپوشند و درین زمینه تا حال هیچ نوع ممانعت از جانب موظفین وزارت امر بالمعروف و نهي عن المنکر دیده نشده و فکر میکنم که درین قسمت کدام تعزیر شرعي وجود ندارد ، پس در صورتیکه در قبال چنین امري تعزیر شرعي هم وجود نداشته باشد چرا انسان احساس بیگانگي و شرم کند.

حکمت الله یکتن از مستأجرین میوه در شهر کابل میگوید : امروز عروسي برادرم نقیب الله جان است، آمدیم تا موتر عروسیش را گلپوش کنیم.

– بعد از اینکه موتر را گلپوش نمودید کجا میروید

– از اینجا با موتر گلپوش آرایشگاه رفته بعداً عروسي برادر را با برادر یکجا گرفته به خانه خسرش میرویم و بعد از ختم محفل یعني حوالي عصر همان روز یکجا در جمع دوستان و عزیزان که ایشان همه سوار موتر هاي خویش میشوند در حالیکه موتر گلپوش داماد و عروس جلو بوده و وسایط موتري دوستان بدنبال موتر داماد و عروس در حرکت مي افتند از خانه پدر عروس بر آمده و شهر گشت میکنیم. در جریان یك یا دو ساعتیکه ما جاده هاي شهر کابل را به گردش میگیریم در بین هر موتر زنان دایره بدست داشته و اینگونه آهنگسرایي میکنند :

ما دستمال آوردیم
با دستار آردیم
شیریني طالب جانه
به صد ناز آوردیم ...

– گفته میتوانید که محافل عروسي هموطنان ما در شهر کابل توأم با چه مقدار آزادي بسر میرسد ، آیا در موقع دایره زدن و ترانه خواندن کسي شما را تهدید نمیکند ؟

– جاي بسیار خوشي است که امروز الحمد لله محافل غم و خوشي در کشور ما از هم تفکیك شده میتواند. ماد ر محافل عروسي خویش خوشي میکنیم، آزادانه دایره مینوازیم، همراه با این دایره آهنگ هاي محلي و ترانه هاي اسلامي و میهني نیز زمزمه میکنیم، داماد روز عروسي دریشي میکند، شب حنا تا نیمه هاي شب دوستان همه بیدار هستند و خوشي میکنند ؛ البته محافل عروسي و خوشي ما بعید از اختلاط زنان و مردان غیر محرم بسر میرسد به این معني که حویلي زنانه جدا است و حویلي مردانه جدا خلاصه ما از ا.ا.ا تا خانه خدا راضي هستیم و در محافل عروسي و خوشي ما هیچ نوع موانع و مشکلاتي از جانب موظفین پولیس با برادران امر بالمعروف و نهي عن المنکر وجود ندارد.

بلي خواننده، عالیقدر! امروز خداوند عزوجل را شکران و سپاسگذاریم تا در سیطره حاکمیت ا.ا.ا محافل خوشي و سرور هموطنان ما بعید از همه اراجیف و منکرات بوده و توأم با اصل رعایت شریعت غراي محمدي «ص» انجام مي یابد؛ از اینرو آن سلسله آزادي هائیکه در قبال مراسم خوشي هموطنان ماد ر مغایرت با شریعت قرار نداشته باشد و دین مقدس اسلام آنرا هزار و چارصد سال قبل براي مسلمین مجوز دانسته و هدیه فرستاده باید وسیعاً انعکاس یابد و انکشاف داده شود تا دشمنان داخلي و خارجي ما نتوانند هیچگاهي بر همچو مسایل دست تمسك بگیرند.

البته در اخیر گزارش این مطلب را اکیداً قابل یاددهاني میدانیم که خوراکه فروشي هاي کوچه مرغها به این امر معتقد شوند که دیزاین دادن کشتي تیتانیك، برج ایفل فرانسه، تاج محل هند و ... در قالب کیك هاي عروسي و سالگره غرض اشتهار هرچه بیشتر آنان کاریست خلاف فرهنگ ملي و اسلامي در کشور .

اگر آنها بعد از این در انتخاب دیزاین کیك هاي شان مناظر تاریخي و اسلامي کشور را چون : طاق ظفر، منار آزادي، سپاهي گمنام و ... قبول نمایند از یك جهت باروري و رشد فرهنگ اصیل کشور را تبارز میدهد و از جانب دیگر جلوگیري از تهاجم فرهنگ هاي بیگانه و کفري در برابر فرهنگ ملي و اسلامي ما تلقي میگردد.

به امید خوشبختي هاي هر چه بیشتر هموطنان ما

مهربان

سازمان صحي ...

آلات طبي را که ارزش مجموعي آن چهل ملیون افغاني تخمین شده است به شفاخانه ولایت بامیان مساعدت نموده است .

این مساعدت بشر دوستانه از طرف محترم واحدي نماینده آن سازمان به شفاخانه ولایت بامیان تسلیم داده شده که از سوي محترم ملا میر علم رئیس صحت عامه ولایت بامیان با ابراز امتنان پذیرفته شد.

از طرف بورد انسجام...

هزار و پنج تن از هموطنان ما زمینه کار و فعالیت آماده میگردد.

مقدار ۱۰۴ تن گندم...

در ولایت بادغیس اخیراً مقدار یکصدو چهار تن گندم مساعدت ریاست تنظیمه زون شمال غرب تهیه و آماده شده است تا به فامیل هاي مستحق در آنولایت توزیع گردد.

۲۰ کارخانه تولید...

ولایت کندهار بیست فابریکه تولید مواد مخدر را تخریب و دو هزار کیلو گرام چرس که در چهل بوجي جابجا گردیده بود در منطقه بامبول ولسوالي سپین بولدك ولایت کندهار کشف و حریق نمود .

در اجتماع که بمناسبت تخریب کارخانه ها و حریق چرس متذکره ترتیب یافته بود محترم ولسوال محترم قوماندان امنیه سپین بولدك و مسوولین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت کندهار حاضر بودند.

سفیر ایران در...

این موافقتنامه ها در جریان سفر آینده صدراعظم المغرب به ایران امضا خواهد شد.

وزیر تجارت ایران ارزش معاملات تجارتي ایران والمغرب را به بیش از دو صد ملیون دالر اعلان کرد .

درگیري هاي...

خبر حاکیست که افزون بر حملات وحشیانه مذکور توپخانه رژیم صهیونستي نیز طي شب گذشته براي مدت یکساعت متوالي مناطق مسکوني را در برخي ساحل غربي مورد گلوله باري سلاحهاي ثقیل قرار داد .

منابع مطبوعاتي رژیم صهیونستي اخیراً خود اعتراف کرده است که رژیم صهیونیستي از سلاحهاي جدید علیه تظاهرات کننده گان فلسطیني استفاده کرده اند.

د زرمت او شاهي ...

شوي او له استفادې وتلې وه په دې وروستیو وختو کې د ا.ا. دی سی د ماین پاکولو موسسې د څلورم لمبر ګروپ له خواله ماینونو څخه پاک شو او ټول د ټانګ ضد او پرسونل ضد ۷۵۳۲ ماینونه کشف او له منځه وړل شوي دي.

د ماینونو له شنډولو څخه وروسته سړک په پاکولو سره چې ۶۰ کیلو متره اوږدوالی لري د سړکي او شاهي کوټ د سیمو د خلکو ترانسپورتي مشکلات لري شوي او د غه سړک له شلو کلونو وروسته بیا د استفادې وړ وګرځید .

په هغو مراسمو کې چې له همدې امله د زرمت ولسوالي د خلکو او چارواکو او دا.دی سي موسسې د منسوبینو په ګډون پرځای شول د دغې ولسوالي یو شمېر چارواکو او مخورو خبرې وکړې او د ماین پاکولو د موسسې د دې اقدام له امله یې قدرداني وکړه .

په پاکستان کي د ا.ا. سفیر...

نیکولاس سره وکتل.

په دې کتنه کې د اسلامي امارت محترم سفیر د علاقې وړ مسئلو په باب د خبرو په ترڅ کې د ملګرو ملتو په سازمان کې رباني ته د افغانستان د څوکۍ د ورکولو له موضوع سره تماس ونیوه او دا کار یې د افغانستان له ملت سره ستره جفا وبلله .

محترم ضعیف وویل رباني په ټول افغانستان کې د حکومت کولو لپاره د پښې ایښودلو ځای نلري نو څه ډول کولای شي نړیوالې مسئلې او د ملګرو ملتو د سازمان پرېکړې په افغانستان کې تطبیق کړي. ده په افغانستان کې د روانې ږکړکالي او د افغانستان په خلکو باندې د ملګرو ملتو د سازمان د غیر عادلانه بندیزونو په اړوند خبرې وکړې او دا کار یې په اوسنیو حالاتو او شرایطو کې **غیر منصفانه وباله .**

په بیت المقدس ...

بې په صهیونستي یرغلګرو باندې برید بلل شوي په هغو نا آرامیو کې چې له شپږو اوونیو را پدېخوا د صهیونستي تېري کوونکو او د فلسطینیانو تر منځ د فلسطین په نیول شویو سیمو کې دوام لري څه د پاسه یو سلو نوي تنه وژل شوي دي.

روسي چارواکو...

ټکر له امله ډوب شوي دي او که څنګه

د آلمان خبري آژانس پرون خبر ورکړ: د روسیې د وسله وال پوځ لوی درستیز اناتولي کورشین په بروکسل کې له خپلو سیالانو سره له غونډې وروسته وویل چې ده په دې اړوند د ناټو د ترون له غړو هیوادونو څخه د تحقیق او څېړنې غوښتنه کړې ده .

د روسیې دولت غواړي د دغه تحقیق په بهیر کې دا شک او تردید چې آیا د دغه هیواد اتومي اوبتل د ناټو له اوبتل سره د ټکر له امله ډوب شوی دی لرې کړي د روسیې اتومي اوبتل تېردی دوه نیمې میاشتې مخکې له خپلو یو سلو اتلسو تنو سپرلیو سره د روسیې د بارنز په سیند کې ډوب شو چې په نتیجه کې یې هیڅ یو د عمله روغه پاتې نشوه او ټول یې ووژل شول .

زرګونو تنو د...

خبر ورکړ په دغو مظاهرو کې چې د اسلام اباد په ګډون د پاکستان په بېلا بېلو ښارونو کې شوي وې اعتراض کوونکو د صهیونستانو د ظلمونو او د فلسطین د مسلمانانو خلکو د شهادت په وړاندې شعارونه ورکړل مظاهره کوونکو د غه راز د فلسطین مسلمانانو خلکو ته د ټولو نیول شویو سیمو د بېرته ورکولو غوښتنه وکړه .

خبر زیاتوي د پاکستان د اسلامي جمهوریت مسلمانانو خلکو د خپلو مظاهرو په ترڅ کې د صهیونستي اشغالګرو په وړاندې د فلسطین د مسلمانانو خلکو له پاڅون سره خپل بشپړ ملاتړ اعلام کړ .

سفیر ایران در ...

و احترام به حاکمیت کشور ها را از اهداف اصلي سازمان ملل متحد بر شمرده و از افزایش اعمال تحریم ها علیه برخي کشور ها اظهار تاسف نمود. وي همچنان تحریم هاي مذکور را عامل بروز اختلال در فعالیت هاي اجتماعي و بشر دوستانه ارزیابي کرد و خواستار پایان تحریم هاي امریکا از کیوبا گردید در گزارش آمده است که مجمع عمومي سازمان ملل متحد دیشب فیصله نامه پیشنهادي مبني بر پایان تحریم ها بر کیوبا را با یکصدو شصت و هفت راي مثبت در برابر سه راي منفي و چار راي ممتنع تصویب کرد .

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د پوهني وزیر د افغانستان ...

له هېوادونو سره د مسئلو په حل کولو کې د تفاهم په اصل باندې عقیده لرو .

ښاغلي ویندرل به په راتلونکې کې هم د افغانستان د سولې د بهیر په اړوند امارتي چارواکو ته معلومات ورکړي.

محترم ملا امیر خان متقي د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې چې مخالفینو ویلي دي د ملګرو ملتو د سازمان د سولې د هڅو په نتیجو هیله من نه یو وویل: سره له دې چې د افغانستان اسلامي امارت په اوسنیو شرایطو کې په یوه بېړه د ریغ کې دی خو بیا هم له هرې ممکنې لارې د ستونزو او مشکلاتو د حل کولو غوښتنه کوي.

موږ غواړو چې د شمال ختیځ د یوې کوچنۍ سیمې په ګډون په ټول افغانستان کې سوله او امنیت تامین شي هغه اراده چې هغوی یې لري او باید څرګندوي په خپله هغوی پورې اړه لري خو موږ نه غواړو چې د سولې بهیر ته زیان ورسیږي د خبرو په اړوند منفي څرګندونې د هغوی نوی اقدام نه دی بلکې د هغوی همیشنی عادت دی.

ادبي غونډه ...

غونډه جوړه شوه .

د محترم غیرت اثر چې د یادونو د یوې په نامه چاپ شوی او د هیواد د پنځه سوه اتیا تنو شاعرانو او ادیبانو پېژندنه پکې ده ورمه ورځ د ننګرهار ولایت د شریعت غږ راډیو د کنفرانسونو په تالار کې د یوې غونډې په ترڅ کې تر کره کتنې او څېړنې لاندې ونیول شو .

په دې غونډه کې لومړی د ننګرهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم ملا عتیق الله عزیزي د شاعرانو او لیکوالو د رسالتونو په باره کې خبرې وکړې او د هیواد د فرهنګ او ادبیاتو د بډاینې په کار کې یې د هغوی رول جوت کړ . وروسته محترم حبیب الله زره سواند محترم عبدالغني هاشمي او محترم امر الله امید د محترم غیرت د اثر په باب مقالې ولوستلې او د غه اثر یې وڅېړه

د امریکا د فلوریډا...

غوښتونکي ګوند کاندید جورج دبلیو بوش تر اوسه پورې له خپل سیال الګور څخه مخکې دی.

امریکا یې مقاماتو ویلي دي د رایو د بیا شمېرنې وروستۍ نتیجې به د نوامبر د میاشتې په اوولسمه نیټه چې د شعبان المعظم د میاشتې له یوویشتمې نیټې سره سمون خوري اعلان شي.

د امریکا د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې د تقلب احتمال او د فلوریډا په ایالت کې د څه د پاسه نولس زره رایو باطلیدو د دغو انتخاباتو اعتبار زیانمن کړی دی او له ابهام سره یې مخامخ کړی دی.

د آلمان د خبري آژانس د خبر له مخې د امریکا د فلوریډا ایالت محکمه به د راتلونکې دوشنبې په ورځ د انتخاباتو د څرنګوالي پر خلاف د شکایتونو په باب د خلکو نظر یې واوري . په دغو شکایتونو کې د رایو د ورکولو په چارو کې سرغړونې شاملې دي ځکه انتخاباتي پاڼې دومره مبهمې او بې مفهومه دي چې د الګور پلویانو په سهوې سره د ده سیال جورج دبلیو بوش ته رایې ورکړي دي. له بلې خوا د امریکا د متحده ایالاتو د عدلیې وزیر غواړي ځینې هغه شکایتونه وڅېړي چې د هغو په ترڅ کې ادعا شوې ده چې د فلوریډا په ایالت کې تورپوستو ته د رایو ورکولو اجازه نه ده ورکړ شوې.

په کندهار کي د...

عیدګاه کې جوړه شوې وه د ستري محکمې مرستیال او د تمیز عالي رئیس محترم مولوي شهاب الدین د لاور د مالیې وزیر محترم ملا آغا جان معتصم د کندهار ولایت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رئیس محترم مولوي غلام حیدر حیدري محترم مولوي احمد الله او یو شمېر نورو علماي کرامو د قرآن عظیم الشان د حفظ او تلاوت د فضیلت او د علم د **زده کړې د ارزښت په باره کې خبرې وکړې او حافظان او قاریان یې په ټولنه کې خپلو راتلونکو دندو او مسؤلیتونو ته متوجه کړل . بیا د قرآن عظیم الشان د شپږو تنو قاریانو او د لسو تنو حافظانو د فضیلت پګړې وتړل شوې .**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press